## Safe Arrival - reporting student absences
## خوندي راتګ - د زده کوونکي د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکول

| English | Pashto (Afghanistan) |
|---|---|
| **Reporting Absences and Late Arrivals** | **د غیرحاضرۍ او ناوخته راتلو خبرتیا ورکول** |
| When students are going to be absent from school or will be arriving later in the day, they must be excused from school, by you, in advance, through our Safe Arrival System. Please excuse your student(s) by selecting a full day's absence, <u>even if they will be arriving later</u>, this lets us know that you have planned for them to not arrive at school first thing and that you know where your student(s) are and that they are accounted for. Students can arrive at any time during the day, they come to the office and we will update their attendance when they arrive.<br><br>There are 3 ways you can report an absence: by phone, app, or online.<br><br>**Interactive Toll-Free Phone**<br><br>• Call the toll-free, interactive telephone system at 1-833-582-6940<br>• If the system does not recognize your caller ID, you will be asked to enter a phone number that the school has on record for you<br>• Follow the instructions to report an absence<br><br>**App (language can be selected)**<br><br>• Download the SchoolMessenger app for Android and iOS devices<br>• Sign up using your PowerSchool username (full email address) that the school has on record for you<br>• Click on *Attendance* | کله چې زده کونکي له ښوونځي څخه غیر حاضر وي یا نا وخته راځي، نو تاسو باید هغوی له ښوونځي نه مخکې زموږ د Safe Arrival System له لارې معاف کړئ. مهرباني وکړئ خپل زده کوونکی (زده کوونکي) د بشپړې ورځې غیرحاضرۍ په ټاکلو سره وبخښئ، <u>که څه هم دوی ناوخته راشي</u>، دا موږ ته دا ښیي چې تاسو مخکې پلان کړی چې ستاسو زده کوونکی (زده کوونکي) به د ښوونځي په پیل کې حاضر نه وي، او تاسو پوهیږئ چې هغوی چیرته دي او هغوی ثبت شوي دي.  زده کوونکي کولی شي د ورځې څه وخت هم راشي، دوی دفتر ته راځي او کله چې دوی راشي مونږ به د دوی د حاضرۍ مالومات تازه کړو.<br><br>د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکولو 3 لارې دي: د ټلیفون، اپپ، له لارې، یا آنلاین.<br><br>**متقابل وړیا ټلیفون**<br><br>• د وړیا، متقابل ټلیفون سیسټم ته په 1-833-582-6940 زنګ ووهئ.<br>• که چیرې سیسټم ستاسو د زنګ وهونکي ID ونه پیژني، نو له تاسو به وغوښتل شي چې د ټلیفون هغه شمېره ولیکئ چې ښوونځی یې ستاسو لپاره په ریکارډ کې لري.<br>• د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکولو لپاره په لارښوونو عمل وکړئ<br><br>**اپپ (ژبه غوره کیدی شي)**<br><br>• د Android او iOS وسیلو لپاره د SchoolMessenger اپپ ډاونلوډ کړئ.<br>• د خپل PowerSchool هغه کارن نوم (د برېښنالیک بشپړ پته) په کارولو سره نوم لیکنه وکړئ چې ښوونځی یې ستاسو لپاره په ریکارډ کې لري.<br>• پر *Attendance* کلیک کړئ<br>• لارښوونې تعقیب کړئ |

- Follow the prompts

**Online (language can be selected)**

What is SchoolMessenger's SafeArrival?

SchoolMessenger's SafeArrival is an absence-management system that improves student safety and makes it easy for you to let the school know about your child's absence.

You are asked to report your child's absence in advance whenever possible using one of these convenient methods:

SchoolMessenger Through PowerSchool

- Log into the **Parent Portal** of PowerSchool
- If signing in for the first time, follow the instructions at the bottom of the page
- Select the *SchoolMessenger* link from the left-hand menu
- Select *Attendance* from the menu, then select *Report an Absence*
- Follow the prompts

Absences can be reported in advance, up to the start of the school day on the date of your child's absence:

- 24 hours/day
- 7 days a week
- For any school day during the current school year

When an absence is reported or updated, you will receive a confirmation notice by email.

If you don't report your child's absence in advance, the automated notification system will try to contact you. This may include an email, text message, and phone call. You will

**آنلاین (ژبه غوره کیدی شي)**

د SchoolMessenger (سکول میسینجر) SafeArrival (سیف ارایول) څه شی دی؟

د سکول میسنجر سیف ارایول د غیرحاضرۍ اداره کولو سیستم دی چې د زده کوونکو خوندیتوب ښه کوي او ستاسو لپاره دا اسانوي چې ښوونځي ته د خپل ماشوم د غیرحاضرۍ په اړه خبر ورکړئ.

له تاسو غوښتنه کیږي چې د خپل ماشوم د غیرحاضرۍ خبرتیا دمخه ورکړئ هرکله چې شوني وي د دې اسانه لارو څخه یوه وکاروئ:

د SchoolMessenger د PowerSchool له لارې

- د **Parent Portal** د PowerSchoolته لاګ ان شئ
- که د لومړي ځل لپاره نوم لیکنه کوئ، نو د پاڼې په پای کې لارښوونې تعقیب کړئ.
- د کیڼ لاس مینو څخه د *SchoolMessenger* لینک غوره کړئ
- له مینو څخه *Attendance* غوره کړئ، بیا *Report an Absence* غوره کړئ
- لارښوونې تعقیب کړئ

د غیرحاضرۍ خبرتیا دمخه ورکول کېدی شي، ستاسو د ماشوم د غیرحاضرۍ په نېټه د ښوونځي د ورځې تر پیل پورې:

- 24 ساعته/ورځ
- په اونۍ کې 7 ورځې
- د روان تعلیمي کال په اوږدو کې د ښوونځي د هرې ورځې لپاره

کله چې د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکړل شي یا تازه کړل شي، نو تاسو به د برېښنالیک له لارې تاییدي خبرتیا ترلاسه کړئ.

که تاسو د خپل ماشوم د غیرحاضرۍ خبرتیا دمخه ورنکړئ، نو د خبرتیا خپلکاره سیستم به هڅه وکړي چې ستاسو سره اړیکه ونیسي. کېدی شي په دې کې برېښنالیک، لیکلی پیغام، او ټلیفوني زنګ شامل وي. له تاسو به وغوښتل شي چې د خپل ماشوم غیرحاضري تایید کړئ.

| | |
|---|---|
| be asked to confirm your child's absence.<br><br>If you try to explain an absence using SchoolMessenger but are then told that it is past the cut-off time, please contact the school directly.<br><br>If you do not want to receive notifications when your child is absent, be sure to report their absence in advance.<br><br>If the automated system cannot reach you, a school staff member will contact you. | که تاسو د SchoolMessenger په کارولو سره د غیرحاضرۍ تفصیل بیانولو هڅه کوئ خو بیا درته وویل شي چې د دې ټاکلی وخت تیر شوی، نو مهرباني وکړئ د ښوونځي سره نېغ په نېغه اړیکه ونیسئ.<br><br>که تاسو نه غواړئ چې ستاسو د ماشوم د غیرحاضرۍ په وخت کې خبرتیاوې ترلاسه کړئ، نو ډاډ ترلاسه کړئ چې د دوی د غیرحاضرۍ خبرتیا دمخه ورکړئ.<br><br>که چیرې خپلکاره سیستم تاسو ته لاسرسی نشي کولی، نو د ښوونځي یو کارمند به ستاسو سره اړیکه ونیسي. |
| **Frequently Asked Questions - General** | **ډیری پوښتل شوي پوښتنې - ټولیزې** |
| **What is the cut-off time for reporting my student's absence? Why won't the system let me edit/delete an absence?**<br><br>The cut-off time is 30 minutes after the school's start time. After the 30 minutes, you will not be able to edit/delete the absence. If there is a change to the absence after the cut-off time, please contact the school.<br>How do I report that my student will be late? How do I report a half-day absence?<br><br>Only full-day absences can be recorded with SchoolMessenger's SafeArrival. If your student is going to be late or only miss the first half of the day, record a full-day absence. When the student arrives at school, the full-day absence will be changed to a late code or half-day absence.<br>Why does the system keep calling me about the same absence?<br><br>If no one confirms the absence, the system will keep calling about the same absence for a pre-configured length of time. | **زما د زده کوونکي د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکولو لپاره پایلوي وخت څه دی؟ ولې سیسټم ما نه پرېږدي چې غیرحاضري ایډیټ/ډیلیټ کړم؟**<br><br>پایلوي وخت د ښوونځي د پیل څخه 30 دقیقې وروسته دی. د 30 دقیقو وروسته، تاسو به نشئ کولی چې غیرحاضري ایډیټ/ډیلیټ کړئ. که چیرې د پایلوي وخت وروسته په غیرحاضرۍ کې بدلون راشي، نو مهرباني وکړئ د ښوونځي سره اړیکه ونیسئ.<br>زه څنګه خبرتیا ورکړم چې زما زده کوونکی به ناوخته راځي؟ څنګه زه د نیمې ورځې د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکړم؟<br><br>د SchoolMessenger د SafeArrival سره یوازې د بشپړې ورځې غیرحاضرۍ ثبت کېدی شي. که ستاسو زده کوونکی ناوخته راشي یا یوازې د ورځې په لومړۍ نیمایي کې غیرحاضر وي، نو د بشپړې ورځې غیرحاضري ثبت کړئ. کله چې زده کوونکی ښوونځي ته راشي، نو د بشپړې ورځې غیرحاضري به د ناوخته یا نیمې ورځې غیرحاضرۍ ته بدله شي.<br>ولې سیسټم ماته د ورته غیرحاضرۍ په اړه زنګ وهي؟<br><br>که چیرې هیڅوک د غیرحاضرۍ تصدیق ونکړي، نو سیسټم به دمخه ټاکل شوي وخت لپاره د ورته غیرحاضرۍ په اړه زنګ وهلو ته دوام ورکړي. |

| | |
|---|---|
| **How do I use the automated phone number 1-833-582-6940 to report an absence?**<br><br>If calling from a phone number that the school has on record for you, the caller ID will recognize the number and prompt you to report an absence for your student. If calling from another phone number, the system will first prompt you to key in a phone number that the school has on file for you. You will then be prompted to report an absence.<br><br>**Can anyone who knows my phone number report an absence using the phone system?**<br><br>Yes, anyone who uses a phone number that is registered for your student or anyone who can enter a phone number that is registered for your student can report an absence. You will receive an email confirmation anytime an absence is created.<br>You can add a requirement for a PIN to be entered before an absence can be reported for a student. This can be done on the Attendance page of the SchoolMessenger app or site itself.<br><br>**When I call the phone and follow the prompts, the prompts repeat and I'm unable to get a confirmation number. What should I do?**<br><br>If there is an issue with the menu prompts, hang up and try again. If the issue persists, contact the school to report the absence. | **د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکولو لپاره څنګه د خپلکاره ټلیفون شمېره 1-833-582-6940 وکاروم؟**<br><br>که تاسو د هغه ټلیفون شمېرې څخه زنګ وهئ چې ښوونځی یې ستاسو لپاره په ریکارډ کې لري، د زنګ وهونکي ID به شمېره وپېژني او تاسو به د خپل زده کوونکي د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکولو ته وهڅوي. که چیرې د بل ټلیفون شمېرې څخه زنګ ووهئ، نو سیسټم به لومړی له تاسو څخه وغواړي چې د ټلیفون هغه شمېره ولیکئ چې ښوونځی یې ستاسو لپاره په ریکارډ کې لري. بیا به ستاسو څخه د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکولو غوښتنه وشي.<br><br>**آیا هغه څوک چې زما د ټلیفون شمېره پېژني کولی شي د ټلیفون سیسټم په کارولو سره د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکړي؟**<br><br>هو، هر هغه څوک چې ستاسو د زده کوونکي لپاره راجستر شوې د ټلیفون شمېره کاروي یا هر هغه څوک چې کولی شي ستاسو د زده کوونکي لپاره راجستر شوې د ټلیفون شمېره ولیکي کولی شي د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکړي. هرکله چې غیرحاضري رامنځته شي، تاسو به تاییدي برېښنالیک ترلاسه کړئ.<br>تاسو کولی شئ د زده کوونکي د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکولو دمخه د PIN لیکلو لپاره یوه اړتیا زیاته کړئ. دا د SchoolMessenger اېپ یا په سایټ کې د حاضرۍ په پاڼه کې ترسره کیدی شي.<br><br>**کله چې زه ټلیفون ته زنګ ووهم او لارښوونې تعقیب کړم، نو لارښوونې تکرارېږي او زه نشم کولی تاییدي شمېره ترلاسه کړم. زه باید څه وکړم؟**<br><br>که چیرې د مینو د لارښوونو په لړ کې کومه ستونزه وي، نو اړیکه پرې کړئ او بیا هڅه وکړئ. که ستونزه دوام ولري، نو د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکولو لپاره د ښوونځي سره اړیکه ونیسئ. |
| **Frequently Asked Questions – PowerSchool Parent Portal** | **ډیری پوښتل شوې پوښتنې - PowerSchool Parent Portal** |
| **How do I log into PowerSchool to record my student's absence?** | **زه څنګه PowerSchool ته ننوځم څو د خپل زده کوونکي غیرحاضري ثبت کړم؟** |

| | |
|---|---|
| Visit the PowerSchool [website](). Your username is the full email address that the school has on file for you and the one you receive communication to from the school. If you have never signed into PowerSchool before, you must visit the site to reset your password by clicking on *Forgot password* and clicking on the *Parent tab*. Instructions are on the main page.<br>Once in PowerSchool, click on the *SchoolMessenger* link in the bottom left, and from the three-line menu in the top left corner, choose *Attendance* and follow the prompts to create a new absence.<br><br>**When I login to the PowerSchool app, there is nowhere to enter attendance. What should I do?**<br><br>The PowerSchool app does not have a link to SchoolMessenger and cannot be used for SafeArrival. When using the PowerSchool option, you must use the PowerSchool website. | د PowerSchool ویبپاڼېوګورئ. ستاسو کارن نوم هغه بشپړ د برېښنالیک پته ده چې ښوونځی یې ستاسو لپاره په فایل کې لري او هغه چې تاسو سره د ښوونځي څخه اړیکه نیول کیږي. که تاسو مخکې هیڅکله په PowerSchool کې نوم لیکنه نه وي کړې، نو تاسو باید د خپل پټنوم بیا سمولو لپاره سایټ ته لاړ شئ په *Forgot password* کلیک وکړئ او په *Parent tab* کلیک وکړئ. لارښوونې په اصلي پاڼه کې دي.<br>کله چې په PowerSchool کې یئ، نو ښکته په کیڼ اړخ کې په *SchoolMessenger* لینک کلیک کړئ، او په پورتنۍ کیڼ کونج کې د درې لکیرې مینو څخه، *Attendance* غوره کړئ او د نوي غیر حاضرۍ رامنځته کولو لپاره لارښوونې تعقیب کړئ.<br><br>**کله چې زه د PowerSchool اپ ته ننوځم، نو د حاضرۍ د ثبتولو لپاره هیڅ ځای نه وي. زه باید څه وکړم؟**<br><br>د PowerSchool اپ د SchoolMessenger لپاره لینک نلري او د SafeArrival لپاره نشي کارول کېدی. کله چې د PowerSchool انتخاب کاروئ، نو تاسو باید د PowerSchool ویبپاڼه وکاروئ. |
| **Frequently Asked Questions - SchoolMessenger App** | **اپ SchoolMessenger ډیری پوښتل شوې پوښتنې - د** |
| **When I try to log into the SchoolMessenger app, it won't allow me to use my PowerSchool email and password.**<br><br>When using the app for the first time, you must click on Sign Up and use your PowerSchool email and password to create the account. After the account is created, you will use the same credentials to log in.<br><br>**Where do I get my PowerSchool username and password to log into the app?** | **کله چې زه د SchoolMessenger اپ ته د ننوتلو هڅه کوم، نو دا ماته پرېښنله نه راکوي چې خپل د SchoolMessenger برېښنالیک او پټنوم وکاروم.**<br><br>کله چې اپ د لومړي ځل لپاره کاروئ، نو تاسو باید په Sign Up کلیک وکړئ او د اکاونټ جوړولو لپاره خپل د PowerSchool برېښنالیک او پټنوم وکاروئ. د اکاونټ جوړولو وروسته، تاسو به ورته سندونه د ننوتلو لپاره کاروئ.<br><br>**زه اپ ته ننوتلو لپاره د PowerSchool کارن نوم او پټنوم چیرته ترلاسه کولی شم؟** |

Your username is the full email that the school has on file for you and the one you receive communication to from the school. If you have never signed into PowerSchool before, you must visit the site to reset your password by following the instructions on the main page of the website.

**When logging into the SchoolMessenger app, it says my email address is not associated with any SchoolMessenger enabled records. What should I do?**

When setting up the app, the email address must be the address that is associated with the email in PowerSchool. If you're unsure of what that email is, please contact your school.

**One of my children is not listed on the Attendance page or in the list of children for whom I can report absences. What should I do?**

SchoolMessenger's SafeArrival will be rolling out gradually in schools. Only students at schools where SafeArrival has launched will appear in your list. If you do not see your child listed and SafeArrival has been introduced at your child's school, please contact their school.

ستاسو کارن نوم هغه بشپړ برېښنالیک دی چې ښوونځی یې ستاسو لپاره په فایل کې لري او هغه چې تاسو سره د ښوونځي څخه اړیکه ترلاسه کوئ. که تاسو مخکې هیڅکله PowerSchool ته نه یئ ننوتلي، نو تاسو باید د خپل پټنوم بیا سمولو لپاره سایټ ته لاړ شئ او د ویبپاڼې د اصلي پاڼې لارښوونې تعقیب کړئ.

**کله چې زه د SchoolMessenger اپ ته ننوځم، نو دا وايي چې زما د برېښنالیک پته د SchoolMessenger فعال شوي ریکارډونو سره تړاو نلري. زه باید څه وکړم؟**

کله چې اپ سموئ، نو د برېښنالیک پته باید هغه پته وي چې په PowerSchool کې د برېښنالیک سره تړاو لري. که تاسو ډاډه نه یئ چې دا برېښنالیک څه دی، نو مهرباني وکړئ د خپل ښوونځي سره اړیکه ونیسئ.

**زما یو ماشوم په Attendance پاڼه یا د هغو ماشومانو په نوملړ کې نه دی چې زه یې د غیرحاضرۍ خبرتیا ورکولی شم. زه باید څه وکړم؟**

د SchoolMessenger، SafeArrival به په تدریجي ډول په ښوونځیو کې پیل شي. یوازې د هغو ښوونځیو زده کوونکي چې SafeArrival یې پیل کړی وي ستاسو په نوملړ کې به راښکاره شي. که تاسو خپل ماشوم په نوملړ کې نه وینئ او SafeArrival ستاسو د ماشوم په ښوونځي کې معرفي شوی وي، نو مهرباني وکړئ د دوی د ښوونځي سره اړیکه ونیسئ.